# د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پریکړه

| | |
|---|---|
| د پریکړې شمیره: | ۲۲ـ ۱۳۸۹ |
| موضوع: | - د ۱۳۸۹ کال د ولسي جرګې د ټاکنو د کاندیدانو د نهایي لست خپرول<br>- ۸ تنه کاندیدان چې د نا قانونه وسله والو ډلو په غړیتوب او یا مشرتوب باندې متهم وو؛<br>- د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکي ادارې له لورې رالیږل شوی مکتوب |
| مرجع: | د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دارالانشاء ریاست |
| وخت، نیټه او د ملاقات ځای: | د ۱۳۸۹ هـ ل کال د چنګاښ ۱، چې د ۲۰۱۰ زیږدیز کال د جون له ۲۲ نېټې سره سمون لري. د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر. |
| حاضرغړي : | ښاغلی فضل احمد معنوي ، ښاغلی ستر جنرال محمد ایوب اصیل ، آغلې مومنه یاري ، آغلې مستوره ستانیکزی، ، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی قاضي سلیمان حامد او ښاغلی عبدالخالق حسیني پشه ئي . |

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون د ۱۵۶ مادې پربنسټ،

**د غونډې په اجندا کې د شاملو موضوعګانو په اړه د ټاکنو خپلواک کمیسیون لاندې پریکړې وکړې:**

1. د ولسي جرګې د ټاکنو د ټولو ۳۵ ټاکنیزو حوزو د کاندیدانو لست باید د ټاکنو د مهالویش سره سم خپور شي.
2. د ولسي جرګې د ټاکنو د هغو ۸ تنو کاندیدانو نومونه چې د ناقانونه وسله والو ډلو د مشرتوب او یا غړیتوب اړوند په ۱۳ کسیز لست کې یې نومونه شامل وو د امنیتي ارګانونو له لورې د هغوی په اړه د نه مسوولیت د اسنادو په وړاندې کولو سره ، د نوموړو کاندیدانو نومونه باید په ټاکل شوي وخت کې د اړونده مهالویش سره سم په نهایي لست کې شامل کړل شي.

د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکي ادارې ته دې دغه موضوع په لیکلي ډول سره ولیږل شي : په ټاکنو کې د روڼتیا او د رأی ورکونې په بهیر کې د خپلوانو او اړوندو کاندیدانو په ګټه د دولتي چارواکو د اغیز د مخنیوي په موخه، غوره به وي چې د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره د اړتیا په صورت کې د هغو لوړ پوړو دولتي چارواکو د تغیر او تبدیل په اړه چې د کورنیو غړو یې په اړونده ټاکنیزه حوزه کې ځان کاندید کړی وي، د دولت د واک لرونکو مقاماتو څخه پدې اړه لارښونې وغواړي او د هغې په رڼا کې